ICRC

له جنوري تر ډسمبر ۲۰۲۴

# په افغانستان کې عملیاتي حقایق او شمېرې



## له روغتیا پاملرنې ملاتړ

### له لومړنۍ روغتیا پاملرنې ملاتړ

- د افغاني سرې میاشتې ټولنې له **۴۷** روغتیایي کلینکونو سره د لومړنۍ روغتیا پاملرنې د ملاتړ په موخه طبي توکي، درمل او نور کومکونه ترسره شول.
- **۹٦۴,۲۹۵** ناروغانو ( چې **٪٦۵** یې میرمنې او کوچنیان وو) د افغاني سرې میاشتې ټولنې له لومړنۍ روغتیا پاملرنه ترلاسه کړې ده.
- **۳۱۲,۳۷۱** دوزه عادي واکسین په **۴۷** کلینکونو کې تطبیق شوی دی.
- **۸،۷۸۸** خوارځواکه کوچنیان د افغاني سرې میاشتې ټولنې د تغذي له پروګرامه برخمن شوي دي.
- د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۷** روغتیا پاملرنې مرکزونو ته ارتقا ورکړل شوه تر څو یې کاري وضعیت ښه شيي او ناروغان د خارج بستر خانګو ته په ښه توګه لاسرسی پیدا کړي.
- **۵٦۴** د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلینکي او مدیریتي کارمندانو د روغتیا پاملرنې د درناوي او خوندیتوب په اړه د پوهاوي په غونډو کې ګډون وکړ.
- **۴۴۳** د افغاني سرې میاشتې ټولنې کلینکي کارمندانو مالي او تخنیکي ملاتړ ترلاسه کړ ترڅو په بیلابیلو روزنیزو غونډو کې برخه واخلي او خپل مهارتونه او کلینیکي پوهه پرې لوړه کړي.
- د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۱۰** لومړنیو روغتیایي مرکزونو ته د ناروغانو د تغذیې د ښه کولو په موخه «چمتو خواړه» برابر شول.

## د روغتون پاملرنه

**۹۸** روغتیايي کارمندان چې په غزني او زُرخه روغتونونو پورې اړوند وو، د ترياژ سنبالنې په اړه يې د عاجلې خونې روزنه ترلاسه کړه.

**٦٣٣,٣١٥** ناروغانو د غزني سيمه روغتون او ولايتي روغتون، د زُرخه ولسوالۍ روغتون، د ترينکوټ ولايتي روغتون او خوست ولايتي روغتون په عاجله خونه کې طبي وسايل او توکي ترلاسه کړي دي.

**٦** د ټروما کټونه (ورسره د **۳۰۰** ناروغانو درملنې لپاره مواد) او طبي تجهيزات د غزني، خوست، زُرخه او ترينکوټ روغتونونو ته د مرستې په موخه ورکړل شول تر څو په بيړنيو حالتونو کې روغتيايي ستونزو ته ځواب ووايي.

**۱۷٦** روغتيايي کارمندان د اساسي عاجلې پاملرنې په **۹** کورسونو کې روزنه ترلاسه کړه تر څو د ژوبل شويو ناروغانو طبي حالت تثبيت او درملنه يې وکړي. د دې پروسې د دوام په موخه ۴۰ تنو (چې ۱۴ تنه يې مبرمنې وې) د روزنکو روزنه په ۴ ورکشاپونو کې ګډون وکړ. دا پروګرام د عامې روغتيا وزارت سره په همغږۍ د اساسي بيړنۍ پاملرنې د پوهې د دودوالي او هڅوونې په موخه ترسره شو.

د يو حمايتي جنراتور د چمتو کولو او د عمومي برېښنا له برج څخه د مزي د غځولو له لارې د روخه ولسوالۍ روغتون برېښنا ته وده ورکړل شوه. دې کار د ۴۰ بستريز روغتون په کاري وضعيت کې ښه والی راوست چې روزانه تقريباً د **۲۵۰** ناروغانو درملنه او ورته سلامشورې ورکوي.

د غزني ولايتي روغتون انسنريټر بياورغول شو چې د ۱۵۰ بستريز روغتون د طبي ضايعاتو مناسبې سنبالنې پرې دوام ومومي.

۶۲۰ بستريز ميرويس حوزوي روغتون ته د بې څنډه برېښنا رسولو هڅو دوام وموند، چې دا کار د لمريزې برېښنا سيستم او حمايتي جنراتورونو ته د پرزه جاتو او وسايلو د چمتو کولو له لارې ترسره شو.

د شينډنډ ولسوالۍ روغتون د اوبو له يوې شبکې سره ونښلول شو، چې ياد روغتون هره مياشت له ۲۵۰ څخه تر ۳۰۰ ناروغانو ته خدمات وړاندې کوي.

## روغتيايي ښوونه

د غضنفر د روغتيايي علومو د انستيتوت له **۹** څانګو څخه د جاري لګښتونو له لارې ملاتړ ترسره شو ترڅو د نرسانو، قابله وو او روغتيايي تکنيشنانو د روزنې داوم ډاډمن شي.

**۳،۲۴۵** زده کړيالانو (**۱،۸۱۱** ښځينه او **۱،۴۳۴** نارينه) په روزنيزو تخنيکي پروګرامونو کې نومليکنه وکړه. **۷۰۵** زده کړيالان (**۳۵۱** نارينه او **۳۵۴** ښځينه) له انستيتونو څخه فارغ شوي دي.

## لومړنۍ مرستې

**٦٦۷** لومړي ځواب ورکونکي په بېلابېلو ولايتونو کې د لومړنۍ مرستې په **۴۴** روزنيزو ناستو کې ورزول شول، هر ګډونوال د لومړنۍ مرسته يو کيټ يا کڅوړه هم ترلاسه کړه.

## بيړنۍ اقدام

**۴۴۱** عاجلې د ټروما کڅوړې (له مواد سره يو ځای چې **۲۲،۰۰۰** ناروغانو درملنه پرې وشي) روغتونونو او د روغتيايي پاملرنې لومړنيو مرکزونو ته د بسپنې په توګه ورکړل شوې چې د پراخو مرګ ژوبلو په عاجلو حالاتو کې د ناروغانو درملنه کوي.

د سرې مياشتې له **۱۲** عامه لومړني او ثانويه روغتيايي مرکزونو او **۲** اساسي روغتيايي مرکزونو سره د داخل وريدي مايعاتو او اړينو درملو بسپنه وشوه ترڅو د عاجلو حالاتو (لکه سيلابونو، زلزلو او د ببرته راستنېدونکيو) سنبالنه پرې وکړي.




په کندهار کې يو ډاکټر په کندهار د سرې مياشتې په لومړني روغتيايي مرکز کې يو ماشوم معاينه کوي.




د هلمند په نادعلي کې دغه کوچني ماشوم دوه کاله وړاندې د ماین د چاودنې له امله خپلې دواړه پښې له لاسه ورکړې. د هغه کورنۍ هغه په لښکرګاه کې د آی سي آر سي د فزیکي بیارغونې مرکز ته راوست. هغه اوس د مصنوعي پښو له ترلاسه کولو وروسته په خپلو پښو ګرځي.

# د فزیکي بیارغونې چوپړتیاوې

**۲۱۵,۲۷۴** ناروغانو (**۳۵٪** مېرمنو او انجونو) سره د آی سي آر سي له لوري د ملاتړ کېدونکو د فزیکي بیارغونې په **۷** مرکزونو کې مرسته وشوه.

**۱۹,۲۶۹** نوي ناروغان (**۴۳٪** مېرمنو او انجونو) ثبت شوي چې له **۱،۲۸۷** (**۲۰٪** مېرمنو او انجونو) کسانو څخه پکې پښې او لاسونه پرې کړای شوي دي.

**۳۴,۰۳۶** پروستیز او ارتوزیس یا مصنوعي پښې او لاسونه تولید شوي.

**۳۲۵,۳۱۳** فزیوتراپیکي درملنې ترسره شوي.

**۱۱,۰۵۵** کورنۍ لیدنې ترسره شوي چې له **۲,۸۱۸** نارغانو سره مرسته وشي.

**۱,۶۱۶** ناروغانو کوچني پورونه ترلاسه کړي.

**۳۶۳** ناروغانو حرفوي زدکړې کړي.

د هرات په فزیکي بیارغونې مرکز کې د تودوښې سیستم نصب شو، چې د یاد ۶۰ بستریز مرکز کاري وضعیتونو ته پرې وده ورکړل شوه.

د جلال اباد د فزیکي بیارغونې په مرکز کې د اوبو رسولو سیستم د بنه والي په موخه د اوبو یوه ټانکۍ جوړه شوه.

**۳۰** زده کړیالان (**۴۳٪** ښځینه) د پروستیز او اورتوز له پروګرام څخه فارغ شول، چې د آی سي آر سي په مرسته د افغانانو لپاره چمتوکېږي.

د غضنفر د روغتیا علومو انستیټیوټ کې د فزیوتراپي روزنیز پروګرام کې **۱۸** زده کونکي (**۵۰٪** ښځینه) شامل شول.

# له آزادۍ د بې برخې شویو کسانو په ګټه فعالیتونه

**۶۶** د زندانونو لیدنې د ټول هېواد په **۱۶** زندانونو کې ترسره شوې.

**۸** ورکشاپونه، د محابسو تر **۱۹۰** ډېرو کارمندانو ( لوړ پوړیو چارواکیو او پیره دارنو) ته د سنبالنې د غوره طریقو او د محابسو په فعالیت کې له عامو مخامخ شویو ننګونو په برخه کې ترتیب شوي دي.

**۸,۰۰۰** بندیانو د **۵** ولایتونو په **۸** محابسو کې د خوړو میاشتینۍ بستې ترلاسه کړې چې د ورځې درې وخته خواړه ورته برابر شي ( له فبرورۍ څخه تر نومبر پورې). د عامې روغتیا وزارت او د محابسو اړونده کارمندانو ته په کابل، بلخ، کندهار او هرات ولایتي محابسو کې د خوړو د لړۍ د سنبالنې په هکله روزنیزې ناستې ترسره شوې.

له **۱۸,۰۰۰** ډېرو بندیانو ته په **۱۴** زندانونو کې کیټونه یا کڅوړې چمتو کړای شوې ترڅو خپلې شخصي روغتیاساتنې او دهغې وضعیتونه ته پرې وده ورکړي. په پلچرخي زندان کې هم ۵۰ بستریز روغتون ته د روغتیا ساتنې مواد چمتو کړای شول.

له **۱۹,۷۰۰** څخه ډېرې ژمنۍ کڅوړې په **۱۲** زندانونو کې توزیع شول چې د سختې یخنې پر وړاندې د بندیانو ساتنه وکړي او په **۳** توقیفځایونو کې **۳,۱۱۰** بندیانو ته (فرش، توشک او بالښتونه) چمتونه شول او هغوی ترې ګټه پورته کړه.

په **۱۲** توقیف ځایونو کې له **۱۳،۰۰۰** څخه زیاتو بندیانو ته تعلیمي مواد، د سپورت وسایل او د بسترونو مواد چمتو شول.

تر **۵،۵۰۰** ډېر بندیان په **۵** زندانونو کې د ودانۍ ، اوبو رسولو او روغتیاساتنې او د برېښنا د سیستمونو د ترمیم او ارتقا له لارې د ژوندانه له ښه وضعیتونو برخمن شوي.




د کندهار له سرپوزې زندان سره ژمنۍ مرسته.

**۸,۰۰۰** بندیان په **۵** زندانونو کې د روغتیاساتنې او د حفظ و مراقبت د کمیټو د بیارامنځته کولو او اړینو موادو او وسایلو د برابرولو له لارې برخمن شوي.

تر **۸،۰۰۰** پورې بندیانو د پلچرخي په مرکزي محبس، ننګرهار، هرات او سرپوزه ولایتي محابسو کې د غنمو د وړو او د محابسو نانوایانو ته د نورو موادو د چمتو کولو له لارې باکیفیته ډوډۍ ترلاسه کړې ده.

شاوخوا **۳۰** ښځینه بندیانو ته په سرپوزه ولایتي محبس کې د ګنډلو کیټونه ورکړل شول او په محبس کې د ګنډلو په برخه کې د نوي جوړ شوي ورکشاپ له لارې ورته د ګنډلو او خیاطۍ روزنه هم چمتو کړای شوه.

په کندهار، هرات او ننګرهار محبس او د کابل په توقیف کې کلینکونو ، میزوچوکۍ او اساسي طبي تجهیزات ترلاسه کړي دي.

د محابسو له روغتیایي چوپړتیاوو د ملاتړ د یوې برخې په توګه په هرات او سرپوزه ولایتي محابسو کې له **۵۷۰۰** ډېرو بندیانو **۵۲،۰۰۰** سلامشورې چمتو کړای شوې. ددې چوپړتیا د پلي کولو په برخه کې عامې روغتیا وزارت ته مالي، لوجستیکي او تخنیکي ملاتړ هم چمتو شو.

په هرات کې په اوسط ډول **۵۰** بندیان د تغذیې د پروژې له مخې له میاشتنۍ درملنې څخه برخمن شول.

**۳,۳۰۰** بندیانو او کوچنیانو په **۳** زندانونو کې د خارښت د جلدي ناروغۍ د خپرېدا پر وړاندې له هغه اقدامه برخمن شول چې د آی سی آر سی لخوا یې ملاتړ کېده. له مرکزي چاړواکو سره د حشراتو د کنټرولولو د موادو د اضطراري ذخیرې په برخه کې هم مرسته وشوه.

**۸۶** بندیانو په ټول هېواد کې د فزیکي بیارغونې خدمات ترلاسه کړل.

---

# د کورنیو اړیکو ساتنه

**۱۹۱** د لادرکه کسانو پېښې اوارې شوې او د دوی ځای ځایګي معلوم شو.

**٦** ویډیویي ټیلي کنفرانس اړیکو ته لار اواری وشوه، په ګوانتنامو کې د ساتل کېدونکیو توقیفي کسانو او په افغانستان کې د دوی د کورنیو ترمنځ د سره صلیب **۱۱٦** پیغامونه ( چې پکې لنډ کورني معلومات هم شامل دي) تبادله شوي دي.

**۳۹** د سره صلیب پیغامونه او **٦** لنډ غیرېز پیغامونه د بندیانو او د دوی د کورنیو ترمنځ تبادله شوي دي.

**۲** تنو د Trace the Face آنلاین خدمت له لارې له خپلو کورنیو سره اړیکې ټینګې کړې.

**۱۴۰** بندیانو په افغانستان کې له آی سي آر سي سره اړیکه نیولې چې د خپلو عزیزانو پلټنه وکړي.




یوه مور د خپل زوی سره پنځه کاله وروسته له هغه چې د شخړو په جریان کې یې له هغه سره اړیکه له لسه ورکړېوه، بیا وصل شوه.

## د ملکي وګړو خوندیتوب

موږ د بشرپاله وضعیت خارنې ته تداوم ورکړی او چې کله هم ورته اړتیا وي، نو موږ له وسله والو ډلو او ښکېلو کسانو سره د دوی د چلن په اړه په محرمانه او دوه اړخیزه توګه اندېښنې راپورته کړي چې په دې توګه د خلکو د خوندیتوب او حرمت ډاډمن شي.

موږ په بېلابېلو ولایتونو کې له ټولنو سره ښکېل یو، چې د دوی د خوندیتوب اندېښنې په غوره توګه درک کړو او داسې لارې چارې ومومو چې پر دوی باندې بشرپال اغېز رامحدود کړي.

---

## د مړو عزتمنه سنبالنه

**۵۵** د عدلي طب متخصصینو له **۱٦** عدلي طب ریاستونو څخه د عدلي طب په هغو تخصصي روزنو کې ګډون وکړ چې د عدلي طب لخوا د آی سي آر سي په ملاتړ په کابل، بلخ او هرات ولایتونو کې جوړ شوې وه.

په کابل، مزار، هرات او ننګرهار ولایتونو کې د قانون انفاذ کوونکیو له بېلابېلو ارګانونو څخه **۱۰۰** ګډونوالو د عدلي طب د حساس سازی په ناستو کې ګډون وکړ.

له ډایکنډي، کاپیسا، پنجشیر، پروان، سمنګان او ارزګان ولایتونو څخه د عدلي طب نوي ګومارل شوي متخصصینو له عدلي طب ریاست څخه لس ورځنۍ لیدنه درلوده، ترڅو خپلو تخنیکي مهارتونو ته پرې وده ورکړي.

له عدلي طب ریاست څخه د عدلي طب **۱۲** متخصصینو له سطحې او ډلهایز قبرونو څخه د انساني اجسادو د لټون، مستندسازی، موندلو او زیرمه کولو په اړه په ورکشاپ کې ګډون وکړ.

د انساني اجسادو په سنبالنه کې ښکېلو مهمو نهادونو **۲** ګردي میزونه جوړ کړل، ترڅو له لادرکۍ په مخنیوي کې د عدلي طب جوړښتونو پر اهمیت ټینګار وکړي او د ګډونوالو ترمنځ همغږي پیاوړې کړي.

د عدلي طب **۳۰** ولایتي ادارو د مړو د عزتمن او خوندي سنبالښت لپاره اکمالات ترلاسه کړل چې پکې د مړو بوجۍ، شخصي حفاظتي وسایل او د دفتر اکمالات هم شامل وو. ځینو ته داسې تجهیزات هم ورکړل شول، چې د زیرمې ورتیا پرې پیاوړې کړي.

په ختیځ، شمال، شمال ختیځ او مرکزي شمال لویدځ سیمو کې د افغاني سرې میاشتې ټولنې **۷٦** کارمندانو او رضاکارانو د انساني اجسادو په اړه یوه ورځنۍ روزنیزه ناسته کې ګډون وکړ ترڅو له دې ډاډ ترلاسه شي چې دوی له دې څخه باخبره دي چې څرنګه په مناسبه او خوندي توګه د انساني اجسادو سنبالنه وکړي.

---

## له خلکو سره مرسته

**۴۴،۹۹۲** په پنځو ولایتونو (بلخ، بدخشان، بغلان، فاریاب او ننګرهار) کې څو موخیزه نغدي مرستې ترلاسه کړي چې خپلې بنسټیزې اړتیاوې پرې پوره کړي.

**۳،۴۵۱** وګړو چې تاوتریخوالي ځپلي وو، نغدي مرستې ترلاسه کړې ترڅو خپلې سملاسي اړتیاوې پرې پوره کړي.

**۲۷،۰٦۴** مسلکي او غیرمسلکي کارګرانو په **۱۱** ولایتونو د کار په مقابل کې د پیسو له پلي کېدونکو پروژو عاید ترلاسه کړی چې په دې پروژو کې د اوبو لګولو د سیستم بیارغونه او ترمیمول، له سیلاب څخه د خوندیتوب لپاره استنادي دیوالونه او د کانالونو پاکول شامل وو.

**۵۰،۵۸۴** بزګرو نغدي مرستې ترلاسه کړې ترڅو تخمونه، سره او کرنیز وسایل پرې واخلي چې په دې توګه پخپلو کرنیزو تولیداتو کې بنه والی راولي.

**۲۰۰** بزګر په کاپیسا ولایت کې انتخاب شول چې د درمند وروسته د ضایعاتو په سنبالنه کې روزنه ترلاسه کړي او د غلو دانو د ذخیره کولو لپاره یې فلزي سیلو هم ترلاسه کړي. په نمونه‌یي ډول **۸۰** بزګر په پریان کې وروزل شول ترڅو د غوره کرنیزو کړنو او د اقلیمي او چاپېریالي خطرونو په اړه د پوهاوي دودوالی پرې وکړي او په ټولنه کې له نورو بزګرو سره یې عملي کړي.

**۲۰۳** کورنیو (**۱،٦۲۴** وګړو) په **۸** ولایتونو کې نقدي مرستې ترلاسه کړې ترڅو د عاید د تولید فعالیتونه پرې پیل کړي چې ورسره د سوداګری د مهارتونو روزنه هم شامله وه لکه، د مالي مدیریت اساسات، بازار موندنه، د سوداګری پلان‌جوړونه او حساب کتاب.

**۷۴۱** میندواره او شیدې ورکونکیو مېرمنو په کندهار او مزار شریف کې د آی سي آر سي لخوا د روزلو شویو ټولنو له لارې د تغذیې پوهاوی ترلاسه کړ. میاشتینۍ نغدي مرسته هم ورسره وشوه چې د مغذي خوړو په پېرنه او د خوارځواکۍ په مخنیوي کې ورسره مرسته وکړي.

د آی سي آر سي ټیم د جبل سراج په سیمه کې ټولنو ته شاوخوا ۱۷۰۰ بایو سینډ فلټرونه جوړ او وېشلي دي.


S. Masoud/ICRC

- شاوخوا **۴٦۰,۰۰۰** کسانو په زابل، مزار، کندهار، هلمند، خوست، هرات او دوامداره او بنه برېښنا ترلاسه کړې ده.
- د کابل، هرات، فیض آباد، کندهار، میمنه، خوست، کندز او شینډنډ په ښاري سیمو کې له **۱,۱۲۰,۰۰۰** څخه زیاتو اوسېدونکیو د زېربناوو د بیارغونې او د لمریزې انرژۍ له لارې د دوامداره برېښنا او د عامه برېښنا شبکې سره د نښلولو له لارې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند.
- له **۲۷۵,۰۰۰** ډېر خلکو چې په ښاري سیمو کې اوسېږي د **۱,۳۱۵** ترمیم شویو لاسي پمپونو او **۱,۸۸۸** بایو سینډ Bio Sand فلټرونو له لارې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی موندلی دی.
- د حفظ و مراقبت ټیمونو او د اوبو او برښنا محلي چارواکیو ته وسایل او توکي چمتو شول تر څو په یاده برخه کې ټولنو ته دوامداره اوبه او برښنا چمتو کړي.
- په پنجشیر کې د حصارک ښوونځي بیارغونه وشوه، چې **۲۱۲** زده کوونکیو په‌کې زده‌کړو ته لاسرسی وموند.

---

# له افغاني سرې میاشتې ټولنې سره ګډ کار

## له سرې میاشتې سره شوې بسپنې

- په لویدیځو او ختیځو سیمو کې له سیلاب او زلزله ځپلو سره د چټک غبرګون د ملاتړ لپاره **۹،۹** مېلیونه افغانۍ مرسته ترسره شوه.
- د افغانی سرې میاشتې ټولنې د بشري سرچینو او عملیاتي برخې سره چې په‌کې د **۵۳** کارمندانو معاشونه او د مرکزي، سیمه ایز او ولایتي دفترونو عملیاتي لګښتونه شامل وو، مالي مرسته ترسره شوه.
- په کابل، مزار، جلال اباد او کندز ولایتونو کې د مخابرې **۴** خونې جوړې شوې او په مرکزي دفتر او کندهار کې د دوو مخابرو د خونو لپاره د مخابرې وسایل، میزوچوکۍ.
- د افغانی سرې میاشتې ټولنې سره **۳۵** موټرې، پرزې، ټایرونه، د HF مخابرې، او تجهیزات مرسته وشه تر څو د عملیاتو ملاتړ يې وشي.
- د افغاني سرې میاشتې ټولنې له مرکزي دفتر سره د **۱۷** لپټاپونو او يو شمیر ارتباطي وسایلو مرسته وشوه.
- د افغاني سرې میاشتې ټولنې د مزار او میمنې څانګو سره د **۲** سترو خیمو مرسته وشوه تر څو د ګودام په توګه یې وکاروي.
- د سرې میاشتې مرکزي دفتر مرستون ته **٦۰** ویلچیرونه ورکړل شول.
- د سرې میاشتې له لویدیځ، شمال، شمال ختیځ او ختیځو و سیمو سره **۱۲** ګډې پروژې پلي شوې ترڅو د څو اړخیزه نغدو پیسو د مرستې له لارې له زیانمنو کورنیو سره مرسته وشي او کوچني بزګران وتوانېږي چې پیسې د کار په مقابل د پروګرام له لارې د خپل معیشت ساتنه وکړي.



د افغاني سرې میاشتې ټولنې یو رضاکار
په کونړ ولایت کې د ماشومانو لپاره د
خطر د پوهاوي او خوندي چلند په اړه یوه
ناسته جوړه کړه.

## ورټیا جوړونه

- د سرې میاشتې له ټولو څانګو ( لویدیځ، شمال، شمال ختیځ او ختیځ ولایتونو) څخه **۱۰۶** ګډون کوونکیو د پروژې مدیریت او مرستندویه اقدام د پلې کولو په برخه کې کورس بشپړ کړ.
- **۱۳۲** رضاکارانو او کارمندانو د روغتیا پاملرنې د ساتنې په **٦** ورکشاپونو کې ګډون وکړ.
- د افغاني سرې میاشتې له لوړې سیمو ته د خوندي لاسرسي او لا چمتو والي په اړه د ستراتیژیکي پلان‌جوړونې **۲۰** ناستې ترسره شوې.
- د سرې میاشتې **۵۵٦** کارمندانو او رضاکارانو د خوندي لاسرسي په **۱۵** ورکشاپونو کې برخه واخیسته.
- د افغاني سرې میاشتې **۵۸** کارمندانو د امنیتي خطر د مدیریت او همدارنګه د کړکیچ مدیریت په ورکشاپونو کې برخه واخسته چې د پیره دارنو د روزنکو روزنه هم پکې شامله وه.
- افغاني سرې میاشتې ټولنې ته **٦** ورکشاپونه ترسره شول تر څو د خوندیتوب او امنیتي څانګې **۵** معیاري عملیاتي کړنلارې یا SOP بیا کتنه وکړي.
- د آی سي آر سي په مالي او تخنیکي ملاتړ د افغاني سرې میاشتې ټولنې د خوندیتوب او امنیتي کارمندانو لخوا د سیمه یزو دفترونو او څانګو **۲۸** امنیتي ارزونې ترسره شوې.
- د سرې میاشتې **۳۱٦** کارمندانو د سرې میاشتې او ای سی آر سی د ملتیا په اړه په **۲۰** لارښوونیزو ورکشاپونو کې ګډون وکړ.
- د سرې میاشتې د مالي برخې **۳۲** کارمندانو په ۷ لارښوونیزو ورکشاپونو کې ګډون وکړ.

---

# د وسلې ککړتیا ته رسیدګې کول

- **۲۴۳,۰۰۰** خلکو ( **۱۴۹,۰۰۰** کوچنیانو، **۴٦,۰۰۰** نارینه‌و، **۴۸,۰۰۰** میرمنو) په وسلو ککړو **۵** زونونو کې د سرې میاشتې د رضاکارانو لخوا د خطر پوهاوي او خوندي چلن په ناستو کې ګډون وکړ.
- **۳۰۱** د ټولنې هغه مشران چې په چاودېدونکیو توکیو ککړو سیمو کې اوسیږي، د خطر پوهاوي او خوندي چلن په ناستو کې ګډون وکړ.
- د فیسبوک **۲** کمپاینونه ترسره شول ترڅو د خطرونو د پوهاوي لوړوالی وکړي او وقایوي پیغامونه خپاره کړي، دا کمپاین **٦** میلیونو خلکو ولید.
- د سیلابونو او ځمکې ښوییدنې وروسته د **۱۴** ورځو لپاره بېړنۍ راډیوي کمپاین په هغه ولایتونو کې ترسره شو، چې د وسلو له ککړتیا څخه اغېزمن شوي‌وو.
- د سرې میاشتې **۴۰** نوي رضاکاران ورزول شول تر څو د خطرپوهاوي او خوندي چلن په اړه پوهاوی ترسره کړي، چې د رضاکاران دا شمېر تر **۱۰۰** تنو رسید.
- د سرې میاشتې **۳۲۰** کارمندانو او د آی سی آر سی **۵٦۷** کارمندانو د کارمندانو د خوندیتوب روزنه ترلاسه کړه.

## د نړیوال بشرپاله حقوقو دودوالی


د بشرپاله بنسټیزو اصولو او د قوې کارونې په اړه د آی سي آر سي په روزنیزو ناستو کې د قانون انفاذ کوونکیو او د وسله والو ځواکونو **۵۷۹** چارواکو ګډون وکړ.

---

## عملیاتي اړیکې او د ټولنې ښکېلتیا

**۳,۴۰۸** د ټولنې مشرانو او غړیو د آی سي آر سي د فعالیتونو په هکله په ۱۹۳ معلوماتي غونډو کې ګډون وکړ.

**۱,۱۷۵** مذهبي او د ټولنې مشرانو او د آی سی آر سی ارتباطي کسانو په **۳۴** روزه ماتیو کې ګډون وکړ چې د روژې په میاشت کې په ټول هېواد کې د آی سي آر سي په ګڼو دفترونو کې ترسره شوې وو.




**د لا نورو معلوماتو لپاره:**
kabul@icrc.org


**د سره صلیب نړیواله کمېټه**
مرکزي نمایندګی، کابل
۱۵ سړک، لومړی کوڅه، ۴مه شمېره کور، وزیر اکبرخان
کابل افغانستان
اړیکه: ۰۰۹۳۷۹۹۵۵۰۰۵۵
برښنا لیک: kabul@icrc.org
www.icrc.org


© ICRC, January 2023


زموږ ویب‌بلاګ:

زموږ فیسبوک‌پاڼه:

زموږ اېکس پته:

ICRC


250/01.2025 Cover photo: ICRC